***د.ح.د.خ.ا. سرگردانو لاره ورکو جزایرو ته یوه***
***د پیغوره ډکه پیغام :***

---------------------

# ***پیغام***

***که می پورته لاړی توک کړم پرمخ ولویږی***
***که ځا ن ځُپ ونیسم غم پرما زیا تیږی***
***ولی نه سره یو کیږی یواوبل ته رټ رټ گوري***
***څه په مینځ کی مو دی پروت چی هغه نه حلیږی***

****

***له دی تشو جزایر و څه جوړیږی***
***د گمنا م رهبرتر شا به څوک دریږی***
***د پردو په لمسون څه به مو تر لاس شی***
***غیر له دی چی مو په زړه زرغون واسواس شی***

****

***سر مو ښکته کړی گریوان ته بیلتون بس دی***
***گټه نه لری افسون او فرکسیون بس دی***
***ولی هیر مو یو د بل سره وروروِلی شو ؟***
***ها د سختو ورځو تېنگی ورور گلویی شو؟***

****

چې هر یو مو پریو بل سر ورکوله
هیڅ قدرت ته سر مو خپل نه ټیټوله
دا څه وشوه چې سره ټول مرور شو
مشران ورک شو هریو ټول پخپل سر شو
****

څوک دزور او څوک د زرو غلامان شول
څوک د پیر بیا لاس تړلی مریدان شول
څوک د حزب او له خپل کړو ځنی شرمیږی
د پردیو په دوستی اوس ښه نازیږی
****

ها چی تا ویل کارګر او د هقانانو
د هغو پرسر واکمن دی اوس لیوانو
هغه څه چی دی ویلی اوس دی هیر شو
هوډ دی مات کړه څیره دی اوس برڅیر شو
****

ځنو ځنو له اوله بی ایمان وه
د مقام د اخیستلو په ارمان وه
جاسوسی ته وه له سره ملا تړلی
جهادی قوماندانان پوری تړلی
****

د پارټۍ رازونه هغو ته رسول
فرکسیون د حزب په مینځ کې جوړول
له مرام اوله هدفه د خپل حزب سرغړول
د خپل قوم ګټې له هر څه لوړګڼل
****

دا څیرې دا ، په حزب کې هغه پټ دښمنان
څوک د شرق ، څوک د غرب بې حیا چاکران
چې نیشه د رهبرۍ لرل پرسر خپل
رسول تولو ملګرو ته بیا شر خپل

****

د حالاتو اټکل هیڅ نشو کولی
د مرحوم رهبر ترشا ، وې ځان ترلی
د حزبیانو سره دا لویه جفا وه
په سیاست کې دا له سره ناروا وه
****
دوی مو نه دی اوس پکار څه چې کاندی
په سیاست کې دوی ځان پورې خاندی
څه چې پاتې یاست ملګرو لار موڅه دی
بې همته مه اوسیږی کار مو څه دی
**

مونږو تولو ته معلوم شو رهبرانو
هغوو غلی خولی ګنډلی غریبانو
چی د ورځی په ګرم نرخ سره ډوډی خوری
کله دلته اوکله هلته دمنت سره مړی خوری
***
له خپل تیر و اندیښنو ځنی تیر شوی
تول صفوف د خپل پارټی هریو هیر کړی
د ملا ،طالب له ډاره تیښتید لی
بزګران او کارګران یی پریښودلی
***
څه چی ویلی هغه یو هم تر سر نشو
پر غریبو ا و بی وزلو اختر نشو
لاس تر ی واخلی نوری مه ورکړی آزار
ها چی مړه دی ګلان کیږدی په مزار
**
اوس له ځان وکړی پوښتنه چی څه وکړو
سر یو شو . یا که بیل همداسی اوسو
که تول بیل سره اوسو تباه کیږو
د تاریخ له زرین پاڼو پناه کیږو
* *

داځه ژوند دی چی یو بل نه مرور یو
د وطن او د خپل خلک نه بی خبر یو
سره واړه د لته او هلته درپه در یو
یود بل په ورکاوی سره په شر یو
**

د مل دا خبره غوږ کی ټینګ وساتی
چی نفاق کی هرغښتلی حز ب خوری ما تی
وخت به تیر شی بیا به ارمان سره و کړی
یو څه فکر ای ملګرواوس زر وکړی
*****

پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)
جرمنی ۲۰۱۱-۳-۹